# يو له سترو جهادونو څخه د ظالم واکمن پر وړاندې عادلانه وينا ده

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "يو له سترو جهادونو څخه د ظالم واکمن پر وړاندې عادلانه وينا ده".
[حسن لغيره دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د الله جل جلاله په لار کې د جهاد تر ټولو ستر او ګټور ډول د ظالم حاکم يا ټولواک پر وړاندې د حق او انصاف وينا ده؛ ځکه چې دا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په شعيره عمل دی، برابره خبره ده که دا په وينا سره وي، يا ليکنه او يا کړنې او داسې نورو سره چې مصلحت پرې تر لاسه کیږي او د فساد مخنيوی پرې کیږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee